هفته‌نامه
آبادي اوونیزه
ABADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
شنبه، د شوال المکرم ۲۵ مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال #۵۴
مسلسل نمبر: #۴۷
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست


# سرلیکنه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په لسمه نېټه د هرات – غور سرک د جوړولو چارو د پیل پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وویل، د ترانسپورټ سکټور د هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لري او اسلامي امارت همدې اهمیت ته په کتو، یاد سکټور په خپلو لومړیتوبونو کې نیولی، چې د پراختیا او اساسي جوړونې په موخه یې له ګاونډیو او سیمې هېوادونو سره پرله پسې مجلسونه دوام لري. دغه سرک د افغانستان له مهمو ملي پروژو څخه دی، چې د ځمکنۍ ترانسپورټ له لارې هرات، غور، بامیان، دایکندي او میدان وردګ ولایتونه له کابل سره نښلولی.

افغانستان د خپل ځانګړي جغرافیایي موقعیت په برکت د تاریخ په اوږدو کې د لوېدیځ او ختیځ ترمنځ د سوداګرۍ، کرنې او ټولنیزو فعالیتونو یو مهم مسیر و او دی. له افغانستان څخه د وربښمو او لاجوردو په څېر لرغونې لارې تېرې شوې دي چې آسیا یې له اروپا او افریقا سره نښلولې وه. خو لومړی دا چې سمندري او هوايي لارې رامنځته شوې او دوهمه مسله پر افغانستان د بهرنیانو یرغلونه و چې دغه هېواد یې نه یوازې په سیاسي لحاظ، بلکې په اقتصادي او سوداګریز لحاظ هم سخت وځپاوه. ټولې زیربناوې یې له منځه ولاړې، لویې لارې یې نه یوازې دا چې پراختیا ونه موندله بلکې وراني ویجاړې هم شوې. همدا لامل و چې افغانستان له اقتصادي پلوه شاتګ وکړ او اوسیدونکي یې له سختو اقتصادي ناخوالو سره مخ شول.

اوس چې په هېواد کې د اسلامي امارت تر چتر لاندې یو قوي او مرکزي حکومت رامنځته شوی دی، هڅه یې داده چې د هېواد زیربناوې بېرته ورغوي، ځکه د زیربناوو له هغې جملې د لویو لارو رغول او جوړول اړین دي. په همدې موخه اسلامي امارت په دې برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي. موږ او تاسو شاهدان یوو چې د اسلامي امارت له راتګ څخه بیا تر نن ورځې د لویو لارو پر رغولو کار روان دی. ددې برخې ښه مثال د کابل-کندهار او سالنګ لویې لارې بیارغونه ده. دا دواړې مهمې ترانزیټي او سوداګریزې لارې دي او کولای شي په کور دننه سوداګرۍ د پراختیا تر څنګ د آسیا د نورو هېوادونو له پاره غوره ترانزیټي لار او د افغانستان له لارې به ددې هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ په پراختیا سره موږ د ترانزیټ له پلوه زیات عواید ترلاسه کړو.

ددې لارو څخه بله مهمه لار د هرات- غور سرک دی چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر له لورې یې د ثور په لسمه نېټه د چارو د پیل پرانیسته وشوه. ددې لارې په جوړېدو سره به نه یوازې ددې لارې په اوږدو کې د پرتو ولسونو ترانسپورټي ستونزې هوارې شي، بلکې د سوداګرۍ د پراختیا او په پای کې د اقتصادي ودې له پاره به ګټوره تمامه شي. د اسلامي امارت هڅه داده چې د لویو لارو په رغونې سره افغانستان یو ځل بیا د آسیا په مرکز بدل او لرغونی سوداګریز برم ور په برخه کړي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د پاشـــدان بند د پاتې چارو د پیل پرانیسته وکړه



۲ مه صفحه

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند پروژۀ اعمار سرک هرات - غور را افتتاح نمود



۳ مه صفحه

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند سه فابریکه مهم را در ولایت هرات افتتاح نمود



۴ مه صفحه

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د پاشدان بند د پاتې چارو د پیل پرانیسته وکړه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په نهمه نېټه په هرات ولایت کې د پاشدان بند د پاتې چارو د پیل پرانیسته وکړه. په همدې موخه جوړ شوو مراسمو کې د اوبو او انرژۍ وزیر ملا عبداللطیف منصور، د هرات والي شیخ نور احمد اسلام جار، د دغه ولایت علماء کرامو، ملي سوداګرو، پانګوالو او یوشمېر امارتي مسوولینو هم حضور درلود.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د تېرو دوو لسیزو پر مهال د هېواد اشغال، جګړې، سیاسي او اقتصادي بې ثباتي او د اقلیمي بدلون له امله اوښتي زیانونه هغه لاملونه یاد کړل، چې له امله یې افغانستان له ډېرو ټولنیزو او اقتصادي ستونزو سره مخ کړی. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د هېواد د خودکفايي، ټولنیز او اقتصادي پرمختګ لپاره د نورو برخو تر څنګ د طبیعي سرچینو د مدیریت لپاره قوي هوډ او د عمل نیت لري، چې په خبره یې، په دغه برخه کې یې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې بنه زمینه برابره کړې ده.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د هېواد په کچه د ټولو هغو بندونو ارزونه ترسره کړې چې کارونه یې نیمګړي پاتې وو. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د یادو بندونو د پاتې چارو بشپړولو لپاره جامع کاري پلانونه جوړ شوي چې له مخې یې د ډېرو بندونو عملي چارې پیل شوي دي. د دغو بندونو له جملې یې یو هم د پاشدان بند دی، چې نن یې عملاً کار پیل شو.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د پاشدان بند پروژه د هرات ولایت لپاره مهمه او حیاتي وبلله او د هرات ولسونو ته یې ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت په ټول توان د یادې پروژې بشپړولو ته ژمن دی او هڅه کوي چې په وخت او ښه کیفیت سره یې کارونه تکمیل کړي. محترم ملا صاحب د هېواد د آزادۍ لپاره د هرات ولسونو د قربانیو قدرداني وکړه او وویل، چې اسلامي امارت به ټولې هغه پروژې پیل کړي، چې د دوی اقتصادي ستونزې پرې حل کېدای شي.

د پاشدان بند پروژې په بشپړېدو سره به زرګونو هېوادوالو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي، شاوخوا ۵۴ میلیونه مترمکعب اوبه به ذخیره، ۱۳ زره هکتاره ځمکه به خړوبه او دوه میګاواټه بریښنا به تولید کړي.

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در سی ومین نمایشگاه بهاری محصولات زراعتی اشتراک نمودند



این نمایشگاه که به بتاریخ ۱۲ ثور ۱۴۰۳خورشیدی در فارم تحقیقاتی بادام باغ کابل برگزار شده بود، شماری از مسؤلین امارتی، نمایندگان سکتور خصوصی و دهاقین حضور داشتند.

معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در مراسمی که به همین مناسبت تدویر یافته بود، به اهمیت نمایشگاه ها اشاره کرد گفت، حکومت ها در تلاش هستند که به منظور معرفی و بازاریابی محصولات خود نمایشگاه ها را در داخل و خارج از کشور برگزار نمایند که امارت اسلامی نیز این سلسله را آغاز نموده است. به گفته محترم ملا صاحب، تجارت یک کشور می تواند از طریق نمایشگاه ها رشد نماید و همچنان زمینه سرمایه گذاری در این زمینه فراهم می شود.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند افزود که افغانستان زمین های زراعتی وسیع و آب فراوان برای آبیاری دارد، اما همچنان سطح تولید محصولات زراعتی پایین است که به گفته وی، معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء به همکاری کارشناسان افغان عملاً کار را روی ستراتیژی انکشاف ملی کشور آغاز کرده که پس از منظوری عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تطبیق و به اساس آن ما می توانیم زراعت افغانستان را مکانیزه و کشور را به سمت صنعتی شدن سوق دهیم.

معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء حین سخنان خویش گفت، امارت اسلامی علاوه بر صنعت با اولویت دادن به

بخش زراعت به مدیریت آب نیز توجه داشته و در راستای مدیریت آب و استفاده از حق مشروع خود پروژه های بزرگ آبی را در کشور آغاز نموده است.

محترم ملا صاحب به همه هموطنان به ویژه دهاقین اطمینان داد که امارت اسلامی برای تقویت سکتور زراعت کشور روی طرح های مهم کار می نماید که با عملی شدن آن اقتصاد کشور رشد و سطح زندگی مردم بهتر خواهند شد.

سی‌ومین نمایشگاه محصولات زراعتی جهت بازاریابی محصولات زراعتی و صنعتی، تقویت سکتور زراعت و حمایت از تولیدات داخلی برگزار شده و در ۲۶۳ غرفه اقلام مختلف به نمایش گذاشته شده است.



## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند پروژۀ اعمار سرک هرات - غور را افتتاح نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء امروز ۱۰ ثور ۱۴۰۳ خورشیدی پروژۀ اعمار سرک هرات - غور را افتتاح نمود. در این مراسم شیخ نور احمد اسلام جار والی هرات، مولوی احمد شاه دین دوست والي غور، مولوی نصرالله مطیع قوماندان قول اردوی ۲۰۷ الفاروق، مسوولین ملکی و نظامی غور و هرات نیز حضور داشتند.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء در مراسمی که به همین مناسبت برگزار گردیده بود، گفت، سکتور ترانسپورت نقش مهم در رشد اقتصادی کشور دارد و با توجه به این اهمیت، امارت اسلامی این سکتور را در اولویت های خود قرار داده است که نشست های پی هم با کشورهای همسایه و منطقه به منظور انکشاف و اعمار اساسی آن ادامه دارد.

محترم ملاصاحب افزود، با روی کار آمدن امارت اسلامی عملاً کار بازسازی شاهراه ها آغاز شده که از آن جمله امروز کار های عملی سرک هرات - غور را افتتاح می نمایم. این سرک یکی از پروژه های مهم و ملی افغانستان است که ولایات هرات، غور، بامیان، دایکندی و میدان وردگ را از طریق ترانسپورت زمینی به کابل وصل می کنند.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند گفت، در مسیر این دهلیز مواصلاتی معادن نمک و سنگ مرمر نیز وجود دارد که تکمیل آن نقش مهمی در توسعه تجارت و ترانزیت منطقه ای خواهد داشت.

در اخیر محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء به مردم غور اطمینان داد که امارت اسلامی در تلاش است تا پروژه های دیگر نیز در این ولایت آغاز نمایند.






## د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د شــاوخوا یو میلیارد افغانیو په ارزښت د کابل ښاروالۍ درې مهمې پروژې پرانیستل شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په اتمه نېټه د خیرخانې کوتل سړک دوهم لاټ، له شهید څلورلارې تر قصبې پورې د غځېدلي سړک لومړۍ برخه او د هوايي ډګر له څلورلارې بیا تر ګمرک پورې د غځیدلي سړک جوړولو پروژې پرانیستل شوې.

محترم ملا صاحب د یادو پروژو د پرانیستو مراسمو ته وویل؛ کابل ښاروالي د ښار د ښکلا او منظموالي په موخه ډېرې هڅې کوي چې د پخوا په پرتله د ښار بڼه منظمه شوې، موږ یې ټولې ترسره شوې هڅې ستایو او پر هېوادوالو غږ کوو چې د عام‌المنفعه پروژو په ساتلو کې له حکومت سره همکاري وکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کابل ښاروالۍ مسوولینو ته سپارښتنه وکړه، څو یادې پروژې په ټاکلي وخت او ښه کیفیت سره بشپړې کړي.

د خیرخانې کوتل سړک دوهم لاټ ۲۵۲۰ متره اوږدوالی او ۶۰ متره پلنوالی لري چې چارې به یې د ۳۶۴ میلیون افغانیو په لګښت سره په ۲۰ میاشتو کې بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. له شهید څلورلارې تر قصبې پورې د غځېدلي سړک د لومړۍ برخې پروژه ۱۸۹۰ متره اوږدوالی او ۴۵ متره پلنوالی لري، چې ټولټال پرې ۱۷۵ میلیونه افغانۍ لګښت او په یو کال کې ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي. د هوايي ډګر له څلورلارې بیا تر ګمرک پورې د غځیدلي سړک پروژه ۲۷۹۴ متره اوږدوالی او ۶۰ متره پلنوالی لري،



چې ۴۰۷ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راغئ او ټاکل شوې چې په ۲۰ میاشتو کې به یې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.

دغه پروژې ویالې، پلې لارې، ګلدانونه، برېښنا، تمځایونه، د سړک د سر خط کول، د ترافیکي نښو نصبول او د یوه معیاري سړک نورې برخې هم لري، چې مالي لګښت یې د کابل ښاروالۍ له لوري ورکول کېږي.



# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند سه فابریکه مهم را در ولایت هرات افتتاح نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء در سفر خود به ولایت هرات بتاریخ نهم ثور ۱۴۰۳ خورشیدی فابریکه های دارو سازی ایتوک فارما و افغان میدیسن و فابریکه مشروبات غیرالکولی شمس کولا در ولایت هرات را افتتاح نمودند. در مراسمی که به همین مناسب تدویر گردیده بود، شیخ نور احمد اسلام جار والی هرات، مولوی نصرالله " مطیع" قومندان قول اردوی ۲۰۷ الفاروق، تجاران ملی، سرمایه گذاران و کارشناسان بخش صحی این ولایت نیز حضور داشتند.

معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء آغاز فعالیت فابریکه های یاد شده در رشد صنعت یک گام مهم و اساسی خوانده، افزود رشد اقتصادی هر کشور از فعالیت های صنعتی سرچشمه می گیرد که خوشبختانه با آمدن امارت اسلامی، افغانستان سفر خود را به سوی صنعتی شدن آغاز کرده است. به گفته محترم ملا صاحب، در حال حاضر افغانستان در بعضی از سکتورها به خودکفایی رسیده و این یک گام مهم به سوی ثبات اقتصادی است.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در جریان افتتاح این فابریکه ها تجار و سرمایه گذاران ملی را تشویق به سرمایه گذاری در کشور نمودند و از آنها خواست محصولات خود را طبق معیارهای موجود به بازار عرضه و از تولید بی کیفیت خودداری نماید، زیرا امارت اسلامی به کیفیت معیار اولویت میدهد. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء با اشاره به حمایت از سکتور خصوصی گفت، امارت اسلامی تمامی ادارات امارتی را موظف به اولویت دادن به محصولات داخلی در هنگام خرید کرده است و همچنان بالای انعده تولیدات تعرفه گمرکی را افزایش داده که در داخل کشور تولید می شوند.

محترم ملا صاحب به فعالیت فابریکه های تولیدی ایتوک فارما و افغان میدیسن در عرضه دارو های با کیفیت به شهروندان اشاره نموده افزود با این کار بیشتر مشکلات مردم هرات از ناحیه دارو حل خواهد شد.



در فابریکه دارو سازی ایتوک فارما ۱۰میلیون دالر سرمایه گذاری شده که در ابتدا ۵۰ قلم از داروهای مختلف را تولید خواهد کرد. در فابریکه داروسازی افغان مدسن ۱۶ میلیون دالر سرمایه گذاری شده که ده ها قلم داروی مختلف النوع را تولید می کند. در فابریکه مشروبات غیرالکولی شمس کولا همچنان میلیون ها دالر سرمایه گذاری شده و تولیدات متنوع دارد. قابل یادآوری است که در این فابریکه ها هزاران نفر به صورت مستقیم و غیر مستقیم مشغول به کار شده اند.



## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۷۱,۸۰؋ | ۷۱,۸۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲۴۸؋ | ۲۴۸؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۳۰؋ | ۱,۳۰؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۷۷,۴۳؋ | ۷۷,۴۹؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰.۷۸؋ | ۰.۷۸؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۸۶۱؋ | ۸۶۱؋ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ۹۰,٦٥؋ | ۹۰,۷۱؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۹,۱٤؋ | ۱۹,۱٦؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۵۵؋ | ۱۹,۵۷؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۹۳؋ | ۹,۹٤؋ |

# د افغانستان – قزاقستان سوداګريزو اړيکو ته ځغلنده کتنه

ليکوال: امان‌الله حنيفي



## سريزه

قزاقستان د افغانستان په ولږه شريک ګاونډی نه؛ خو په نړيې سيمه کې پروت هغه هېواد دی، چې واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره يې له افغانستان سره خپلې سوداګريزې او اقتصادي اړيکې پراخې او په دغه برخه کې يې د پرمختګ په موخه مهم ګامونه اخيستي دي. قزاقستان په سيمه او نړۍ کې لومړنی هغه هېواد دی چې اسلامي امارت يې د هغو ګروپونو له لېست څخه وايست، چې دغه هېواد په خپله خاوره کې پرې بنديز لګولی و. قزاقي دولت وويل، چې دوی دا کار د افغانستان اسلامي امارت سره د سوداګريزو، ترانزيتي او اقتصادي اړيکو د پياوړتيا او پراخوالي په موخه کړی دی او غواړي چې په نړيې راتلونکي کې د افغانستان يو ښه اقتصادي ملګری جوړ شي.

په ورته وخت کې د افغانستان اسلامي امارت هم له قزاقستان سره د خپلو سوداګريزو او ترانزيتي اړيکو د پراخولو په موخه څو ځلې دغه هېواد ته خپل لوړرتبه پلاوي لېږلي دي. د دغو پلاوو د سفرونو په پايله کې د پخوا په پرتله د سوداګرۍ حجم زيات او په ډېرو برخو کې پرمختګونه شوي دي.

دا چې قزاقستان د افغانستان لپاره د سوداګرۍ په برخه کې څومره مهم دی او د دواړو هېوادونو له لوري د دوه اړخيزې سوداګرۍ د زياتولو په برخه کې کوم ګامونه اخيستل شوي، موږ په همدې مقاله کې پرې خبرې کوو.

## افغان – قزاق سوداګري او په دغه برخه کې ترسره شوې هڅې

واک ته د اسلامي امارت له رسېدو را وروسته افغانستان او قزاقستان کوښښ کوي چې له يو بل سره ښه اقتصادي او سوداګريز شريکان جوړ شي. همدې موخې ته د رسېدو لپاره څو ځلې د افغانستان اسلامي امارت چارواکو او قزاقي لوري ګډې ناستې کړي دي، چې پر مهمو مسايلو، شته فرصتونو او د موجودو ستونزو پر له منځه وړلو يې خبرې او پرېکړې کړي دي. اوسمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ ارزښت شاوخوا ۲۷۰ ميليون ډالرو ته رسېږي . د دغه سوداګريزې اړيکې تقويت او پراختيا کولای شي ډېر سوداګريز فرصتونه رامنځته کړي.

قزاقستان د افغانستان بازارونو ته د ازبيکستان، ترکمنستان او يوه اندازه د تاجکستان له ترانزيتي لارو غنم، اوړه، غوړي او دغه راز بربښنايي وسايل، کرنيز ماشين آلات او ساختماني وسايل او توکي صادروي. له دې سره سره چې افغانستان د قزاقستان لپاره يو ښه مصرفي مارکېټ دی، برعکس بيا قزاقستان د افغانستان د وچو او تازه مېوو او همدا راز د زعفرانو او بېلابېلو افغاني محصولاتو لپاره د بازارموندنې او له دې لارې نړۍ ته د خپلو محصولاتي توکو رسولو يوه ښه لار هم بلل کېږي.

قزاقستان يو له هغو هېوادونو دی چې د افغانستان په اړه ناپېيلې بهرنۍ سياست لري او هېڅ وخت د افغانستان په سياسي، اقتصادي، امنيتي او نورو مسايلو کې لاسوهنه نه کوي او نه له خپلې خاورې بل چا ته اجازه ورکوي، چې افغانستان ته ضرر پېښ کړي. قزاقستان د همدغه سياست په رڼا کې د اسلامي امارت په راتګ سره له کمې مودې وروسته خپل سفارت په کابل کې پرانيست او هم د دغه هېواد په مرکز استانه او الماتي ښارونو کې د افغانستان سفارت او کونسلګري فعال شول، چې اوسمهال د افغانستان اسلامي امارت له مرکزي حکومت څخه دستور اخلي، چې چارې يې په ښه ډول پر مخ ځي.




د دواړو هېوادونو له لوري د ډيپلوماتيک ماموريت پيل دې ته لار هواره کړه، چې د دواړو لورو ترمنځ د دوه اړخيزې سوداګرۍ د زياتولو لپاره باور رامنځته او عملاً په ځينو برخو کې کار پيل شي. په همدې موخه تېر کال د قزاقستان په مرکز استانه کې د قزاق - افغان په نوم درې ورځنی نړيوال نندارتون پرانيستل شو. دغه نندارتون ته لوړرتبه امارتي

پلاوی او سلګونه سوداګر په رسمي ډول غوښتل شوي وو، چې د دواړو هېوادونو د خصوصي سکټور ترمنځ پکې په بېلابېلو برخو کې د ۱۹۰ میلیون ډالرو په ارزښت تړونونه لاسلیک شول. په کې ۳۵۰ افغان سوداګرو د هېواد ۴۲۰ قلمه تولیدات او محصولات نندارې ته ایښي وو، چې د کوربه هېواد او ګډون کوونکو له لوري ترې هرکلی وشو .

څه وخت مخکې په کابل کې د قزاقستان د سفیر او سوداګرۍ خونې رئیس او همدا راز د هرات والي د مرستیال په حضور کې د افغانستان او قزاقستان ترمنځ په هرات ولایت کې د سوداګرۍ ګډه خونه پرانیستل شوه . دغه خونه د دواړو هېوادونو سوداګرو ته د اسانتیاوو د زیاتوالي په موخه جوړه شوې ده. د دې خونې له لارې به افغان او قزاقي سوداګر هڅه کوي، چې د خپلو سوداګریزو راکړو ورکړو حجم زیات کړي.

د همدې ګامونو د اخیستو په دوام د تېر لمریز کال په وروستیو کې د قزاقستان د بهرنیو چارو وزارت په رسمي ډول وویل، چې دوی اسلامي امارت د هغو تحریم شوو ګروپونو له نوملړه ایستلی، چې دوی په خپله خاوره کې پرې د فعالیت بندیز لګولی و . د افغانستان اسلامي امارت د قزاقستان د دغه اقدام هرکلی وکړ او دا یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي




او اقتصادي اړیکو د پراخوالي په برخه کې ګټور ګام یاد کړ.

له دې وروسته په دې وروستیو کې د قزاقستان د لومړي وزیر د مرستیال په مشرۍ یو لوړرتبه اقتصادي پلاوی چې د دغه هېواد د خصوصي سکټور استازي هم پکې وو، کابل ته راغی. د دغه هېواد د لومړي وزیر د مرستیال په مشرۍ راغلي پلاوي د ریاست‌الوزراء له اقتصادي مرستیال سره په لیدنه کې وویل، قزاقستان چمتو دی چې د افغانستان په کانونو کې د قزاقي پانګوالو پر پانګونې سربېره له افغانستان سره د برېښنايي حکومتولۍ، صنعت، لوړو زده کړو، پوهنې، روغتیا او بانکي سکټورونو کې هم همکاري وکړي. په دغه لیدنه کې د دواړو لورو ترمنځ د دوه اړخیزې سوداګرۍ د زیاتوالي په موخه د افغان – قزاق ګډو کمپنیو په جوړولو، د صنعت او سوداګرۍ ګډو خونو او د تجارت او کار ګډ ګروپ پر رامنځته کولو خبرې وشوې او په دغه برخه کې د عملي کار پر پیل ټینګار وشو.

همدارنګه قزاقي پلاوي له افغانستان سره د ترانزیت کچې د زیاتوالي په موخه په افغان – ټرانس پروژه کې د شوو پرمختګونو د ستاینې ترڅنګ وویل، که چېرې د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه پاکستان ته د اوسپنې پټلۍ نوې شبکه وغځول شي، دا به د نورو پروژو په پرتله لنډه او د ښکېلو هېوادونو لپاره اقتصادي تمامه شي او وبه کولای شي، چې د مرکزي آسیا هېوادونه د افغانستان له لارې سویلي آسیا او افغانستان به د ترکمنستان او قزاقستان له لارې له چین او اروپا سره ونښلوي. اسلامي امارت د دغه پروژې د تطبیق په برخه کې قزاقي پلاوي ته د هراړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ .

د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې زیاتوالي په موخه د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په شپږمه نېټه د افغان – قزاق سوداګرۍ فورم په کابل کې پرانیستل شو. په دغه دوه ورځني سوداګریز فورم کې پر افغان سوداګرو او صنعت کارانو سربېره قزاقي سوداګرو هم خپل تولیدات نندارې ته ایښي وو، چې د افغانانو له لوري یې ښه هرکلی وشو. د دغه فورم پر مهال قزاقستان چمتووالی وښود چې دوی غواړي له افغانستان سره د خپلې سوداګرۍ کچه درې میلیارد ډالرو ته ورسوي .

د افغان- قزاق سوداګرۍ فورم د پرانیستې په دوام، د سوداګریزو فعالیتونو د پراختیا او تړونونو د ترلاسه کولو په موخه په ۱۲ سکټورونو کې د بي ټو بي په نوم د افغانستان او قزاقستان د خصوصي سکټور ناستې هم ترسره شوې او همدارنګه د افغانستان، ترکمنستان او قزاقستان ترمنځ د درې اړخیزې سوداګرۍ د زیاتوالي په اړه هم ناستې ترسره او په دوام یې ټینګار وشو.

افغان او قزاق سوداګرو د دغه فورم جوړېدل د دواړو هېوادونو ترمنځ د صادراتو او وارداتو د زیاتوالي په برخه کې مهم پرمختګ یاد کړ او د دواړو هېوادونو له حکومتونو یې وغوښتل، چې د سوداګریزو اسانتیاوو د رامنځته کولو په برخه کې لا نورې هڅې هم وکړي.



## پایله

له قزاقستان سره د سوداګریزو اړیکو په پیاوړي کېدو سره دغه هېود کولای شي د افغانستان په بیارغونه او اقتصادي وده کې د پام وړ مؤثر فعالیت ترسره کړي؛ ځکه دغه هېواد د نفتو او ګازو ډېرې لویې سرچینې لري. له بل لوري قزاقستان په نړۍ کې د غنمو له لویو تولیدوونکو هېوادونو څخه دی، چې دې ظرفیت ته په کتو سره د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډې همکارۍ ډېر فرصتونه برابرېږي. قزاقستان په جغرافیوي لحاظ په یو مناسب ځای کې پروت دی. مرکزي آسیا هېوادونو پر مټ کولای شي له چین او روسیې سره افغانستان ونښلوي. له قزاقستان سره د اړیکو پیاوړتیا په صورت کې به افغان سوداګر وکولای شي چې خپل مالونه د دغه هېواد له لارې د نړۍ او په ځانګړي ډول د روسیې بازارونو ته ورسوي. د منځنۍ اسیا هېوادونه تر ډېره خپلو کې اقتصادي او سوداګریزې سیالۍ کوي او هر هېواد هڅه کوي چې د خپلو تولیداتو لپاره لنډ او ارزانه یو ښه مصرفي مارکېټ پیدا کړي، چې د قزاقستان لپاره افغانستان تر ټولو ښه انتخاب دی.